# الله تعالی او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅول حرام کړي دي

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې په مکه کې يې د فتحې په کال وېيل: «الله تعالی او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅول حرام کړي دي، نو وويل شو چې: ای د الله رسوله! د مردارې د وازړو په اړه خبر راکړه (چې حکم يې څه دی) ځکه په هغې سره بېړ غوړېږي او پوستکو ته پرې رنګ ورکول کېږي (غوړېږي چې د وچېدو مخنيوی يې وکړي) او خلک پرې څراغونه روښانه کوي؟ نو هغه وويل: «نه، هغه حرام دي»، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې وخت کې وفرمايل : «الله تعالی دې يهودان تباه کړي، کله چې الله تعالی (د چارپايانو) وازګې حرامې کړې، نو دوی ويلې کړې، بيا يې خرڅې کړې او پيسې يې وخوړې».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

جابر رضي الله عنه په مکه کې د فتحې په کال له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ويل ئې: الله او رسول يې د شرابو، مردارې، خنزير او بُتانو خرڅلاو حرام کړی دی، نو وويل شو چې ای د الله رسوله! آيا مونږ ته روا دي چې د مردارې وازګې خرڅې کړو؟ ځکه په هغې سره کښتۍ غوړېږي، پوستکي پرې رنګيږي او خلک پرې څراغونه روښانه کوي، نو هغه وفرمايل: نه، خرڅول يې حرام دي، بيا په دې وخت کې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالی دې يهود هلاک کړي او خپل لعنت دې پرې راولېږي؛ کله چې الله تعالی پرې د حيواناتو وازړې حرامې کړې دوی ويلې کړې، بيا يې د هغې غوړ خرڅ کړل او پيسې يې وخوړې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4556

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee